

بریا د ټولو هیله

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه

نهم کال، دریمه ګڼه | جولای - سپټمبر | ۲۰۲۳م کال

د افغانستان کرکټ بورډ

د رسنیو او مطبوعاتو څانګه

درې میاشتنۍ مجله

جولای - سپتمبر | ۲۰۲۳م کال



مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي: حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ، خوشحال درانی او سید نسیم سادات

ډیزاین: احمد ذبیح رامین

www.facebook.com/AfghanistanCricketBoardOfficial
www.facebook.com/ACBDomestic
www.facebook.com/GAOneDayCup
twitter.com/ACBofficials
twitter.com/AcbDomestic
twitter.com/GAOneDayCup
www.instagram.com/afghanistancricketboard
www.instagram.com/gaonedaycup
www.youtube.com/c/AfghanistanCricketBoardOfficial
cricket.af

لیکنې

1	د کرکټ نړیوال جام افغانستان ته راوړل شو	2
2	افغانستان له بنګله دېش څخه په خپل کور کې لوبلړی وګټله	6
3	د افغانستان او پاکستان ترمنځ د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبلړی ترسره شوه	8
4	افغانستان ۱۵۰ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې بشپړې کړې	16
5	د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو ګډون کوونکې لوبډلې، مهالوېش، افغان لوبډله او د افغانستان سیالۍ	18
6	افغان اتلانو د نړیوال جام په موخه تمریناتي کمپ ترسره کړ	24
7	محمد نبي په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۵۰ وېکټې پوره کړې	30
8	حضرت الله ځاځي په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې	31
9	نجیب الله ځدران په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې پوره کړې	33
10	افغان لوبډلې په ۲۰۲۳م کال اسیا جام سیالیو کې ګډون وکړ	34
11	میوند اتلانو د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو اتلولي وګټله	40
12	سپین غر زون معلولینو لوبډلې له خپلې اتلولۍ دفاع وکړه	44
13	د کرکټ نړۍ ۸ ستر ریکارډونه یا کارنامې	46
14	سټورټ براډ له نړیوال کرکټ سره مخه ښه وکړه	50
15	هالنډ او سریلانکا د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو ته لاره وموندله	52
16	د سوپر کولا شرکت او افغانستان کرکټ بورډ ترمنځ د افغان لوبډلې عمومي مالي ملاتړ وغځول شو	54

سریزه

افغانستان کرکټ بورډ، ملي لوبډلې ته د لوبو د تنظیم په ډګر کې ډېر بریالی و چې په مارچ میاشت کې د پاکستان پر وړاندې له لوبلړۍ او له هغه وروسته په جون کې د سریلانکا پر وړاندې له سیالیو وروسته یې په اګست میاشت کې بیا د پاکستان پر وړاندې د یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ تنظیم کړه او په ښه ډول یې کوربه توب وکړ.

ورپسې افغان لوبډلې په اسیا جام سیالیو کې ګډون وکړ چې له ډېرو هلو ځلو وروسته دویم پړاو ته له لار موندنې محروم شوه او بیرته کورته راستنه شوه.

دغه راز یې نړیوال جام ته له تګ وړاندې ورته په متحده عربي اماراتو کې تمریناتي او د لوبغاړو د تېښنو د رغېدو کمپ ونیو چې ډېر مؤثره او اغېزناک ثابت شو چې له همدې کمپ وروسته به د نړیوال جام سترو سیالیو کې ګډون وکړي.

اداري له هره اړخه هڅه کړې چې لوبغاړو ته بشپړې اسانتیاوې رامنځته کړي، ترڅو لوبغاړي ورسره غوره کارکردګي وکړي نو هیله ده چې لوبغاړي د نړیوال جام سیالیو کې ښه وځلیږي او هغه موخې چې له وړاندې ورته ترسیم شوې، په نړیوال جام سیالیو کې ترلاسه کړي.

درنښت

اداره

د کرکټ
نړیوال جام
افغانستان ته راوړل شو

د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام چې د اکټوبر میاشتې په ۵مه د هندوستان په کوربه توب پیلیږي، د یاد لوبو جام د نورو هېوادونو په څېر افغانستان ته هم راوړل شو. د کرکټ د نړیوال جام یا ټرافي چې د هر نړیوال جام مخکې په هېوادونو ګرځول کیږي، سږ کال د دریم ځل لپاره افغانستان ته راوړل شوه. له دې مخکې د ۲۰۱۵م او ۲۰۱۹م کلونو د کرکټ نړیوال جامونه افغانستان ته راوړل شوي دي.

د ۲۰۲۳م کال پنځوس اوریز نړیوال جام کې به افغان ملي لوبډله د دریم ځل لپاره ګډون وکړي چې اوس مهال د یادو لوبو لپاره هندوستان ته رسېدلې ده. سږنی نړیوال جام چې ۱۰ پیاوړې لوبډلې پکې برخه لري، د نړۍ ۱۹ هېوادونو او ۴۲ ښارونو باندې وګرځول شو چې د مینه والو له لوري یې تود هرکلی وشو.

د نړیوال جام د سفر په یاد نوملړ کې دا ځلې په لومړي ځل د افغانستان نوم نه و چې د افغان کرکټ مینه والو غبرګونونه ورسره راولاړ شول. د یاد نوملړ د خپرېدو سره سم د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه پلاوي د کرکټ نړیوالې شورا سره اړیکه ونیوله، ترڅو یادې شورا ته قناعت ورکړي او یاد جام افغانستان ته راوړل شي ځکه افغانستان د کرکټ نړیوالې شورا پوره غړیتوب لري او دلته د کرکټ سره د ولسونو مینه بې ساري ده. د یاد پلاوي د پرله پسې یوې میاشتې هلو ځلو وروسته بلاخره د کرکټ نړیوالې شورا ومنله چې یاد جام به افغانستان ته د دوو ورځو لپاره یوړل شي.

یاد جام د روانې سپټمبر میاشتې په اوومه نېټه د دوو ورځو لپاره کابل ته راوړل شو او د همدې میاشتې پر ۹مه نېټه سهار وختي بیرته متحده عربي اماراتو ته یوړل شو. د جام راوړلو ته د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د ښه هرکلي په موخه د کابل هوایي ډګر او کرکټ بورډ کي غوره چمتووالی نیول شوی و چې له هوایي ډګره د افغانستان کرکټ بورډ تر اداري پوري ورته وي ای پي پروټوکول یا تشریفات نیول شوي وو.

په لومړی ورځ یعنې د سپتمبر په اوومه یاد جام د دارالامان تاریخي مانۍ، بابر مانۍ، پغمان مانۍ، پغمان بالا باغ او د ماهیپر ښکلو درو ته یوړل شو چې د افغانستان تر ۱۹کلنو د کم عمر لرونکو لوبډلې ځوان لوبغاړو ورسره ملتیا کوله. همدا راز یاد جام په دویمه ورځ د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د ستورو لوبغاړو ګلبدین نایب، عظمت الله عمرزي، سلیم ساپي او عبدالرحمن رحماني لخوا د هېواد لرغوني بلخ ولایت ته یوړل شو او هلته په روضه مبارکه او د بلخ ولسوالۍ په ملا محمد جان زیارت کې نندارې ته وړاندې شو.

د افغانستان کرکټ بورډ مسوولین وایي چې د هېواد ښکلو او تاریخي سیمو ته د یاد جام له وړلو څخه یې موخه نړۍ ته د افغانستان د ښکلاګانو، تاریخي او لرغونو اباداتو او د کرکټ سره د ولس د مینې غوره انځور وړاندې کول دي، ترڅو افغانستان ته د سیاحت په موخه د نړیوالو توجه او پام راجلب کړل شي.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رئیس ښاغلی نصیب خان د یاد جام د راوړلو په اړه وایي: ((مور کرکټ ته یوازې د یوې لوبې په سترګه نه ګورو، بلکې د دې لوبې له لارې غواړو د افغانستان ښه انځور نړۍ ته وړاندې کړو. دا جام چې د دریم ځل لپاره افغانستان ته راوړل شو، د هغې ورځې په هیله چې په رښتیا یې افغانستان ته راوړو یعنې ویې ګټو، او مور د دې لپاره خپله پوره هڅه کوو.))

د کرکټ نړیوالې شورا پنځوس اوریز نړیوال جام چې هرو څلورو کلونو کې ترسره کیږي، ۱۲ ځلي ترسره شوی او ۱۳م پراو به یې د اکټوبر په ۵مه هندوستان کې پیل شي. افغان کرکټ ملي لوبډله به په یادو لوبو کې خپله لومړۍ سیالۍ د بنګله دېش پر وړاندې ترسره کړي.




#CWC23


ICC MEN'S
CRICKET WORLD CUP
TROPHY
TOUR
AFGHANISTAN


ICC MEN'S
CRICKET WORLD CUP
TROPHY
TOUR
AFGHANISTAN




#CWC23


ICC MEN'S
CRICKET WORLD CUP
TROPHY
TOUR
AFGHANISTAN


ICC MEN'S
CRICKET WORLD CUP
TROPHY
TOUR
AFGHANISTAN


#CWC23


ICC MEN'S
CRICKET WORLD CUP
TROPHY
TOUR
AFGHANISTAN


ICC MEN'S
CRICKET WORLD CUP
TROPHY
TOUR
AFGHANISTAN





افغانستان له بنګله دیش
په خپل کور کې لوبډلې وګټله

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د بنګله دېش کرکټ لوبډلې سره د یو ورځنیو سیالیو لوبړې په بریا پای ته ورسوله او یادې لوبډلې ته یې په خپل کور کې د ۲-۱ په توپیر سره ماتې ورکړه. په یادې بریا سره افغانستان له انګلستان وروسته دویمه لوبډله شوه چې وروستیو اته کلونو کې له بنګله دېش څخه په خپل کور کې د یو ورځنیو سیالیو لوبړې ګټې. باید وویل شي چې دا لومړی ځل دی چې افغان ملي لوبډله له بنګله دېش څخه د یو ورځنیو لوبو لوبړې کې بریا خپلوي.
د افغانستان او بنګله دېش ترمنځ یاده لوبړې د جولای میاشتې له ۵مې تر ۱۱مې نېټې د بنګله دېش په چټاګرام ایالت کې ترسره شوه. دغه لوبړې چې تر دېرە ځوان لوبغاړو ته پکې د لوبډو موقع ورکړل شوې وه، موخه یې د کرکټ نړیوالې شورا پنځوس اوریز نړیوال جام ته د لوبډلې غوره چمتووالی و.





په دغه لوبړې کې دریو ځوان لوبغاړو سلیم ساپي، ضیاء الرحمن اکبر او عبدالرحمن رحماني د لومړي ځل لپاره په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې د افغانستان لپاره د لوبډو وياړ ترلاسه کړ.

د لوبړې په لومړۍ سیالۍ کې لومړی بنګله دېش توپوهنه ترسره کړه چې افغان ملي لوبډلې ته یې یوازې د ۱۷۰ منډو هدف وټاکه. افغان اتلانو په ټاکل شوي هدف پسې چټک پیل واخیست او له ۲۱.۴ اورونو وروسته یې د دوه لوبغاړو په زیان ۸۳ منډې جوړې کړې وې، چې پاتې لوبه د وربښت له امله تر سره نشوه او یاده لوبه افغان لوبډلې د (ډي ایل) میتود له مخې د ۱۷ منډو په توپیر وګټله.

همدا راز د لوبړې په دویمه لوبه کې لومړی افغان ملي لوبډلې د رحمن الله ګربز د ۱۴۵ او ابراهیم ځدرانِ ۱۰۰ منډو پر مټ سیالې لوبډلې ته د ۳۳۲ منډو هدف وټاکه، خو بنګله دېش لوبډلې یې په ځواب کې یوازې ۱۸۹ منډو کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکړل. په دغه سیالۍ کې د افغانستان لپاره رحمن الله ګربز او ابراهیم ځدرانِ د نړیوالو یو ورځنیو سیالیو د (اوپننګ) تر ټولو ستره د ۲۵۶ منډو ملګرتیا ترسره کړه.

د یادې لوبړې په وروستۍ لوبه کې افغان ملي لوبډلې یوازې د ۱۲۷ منډو هدف وټاکه چې بنګله دېش د ۳ لوبغاړو په تاوان سره د لوبې په ۲۴م اور کې ترلاسه کړ او دغه لوبړې یې ۲-۱ توپیر سره افغان ملي لوبډلې وګټله.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې چټک توپ اچوونکی فضل الحق فاروقي په یاده لوبړې کې د ۸ ویکټو په ترلاسه کولو سره د لوبړې تر ټولو غوره لوبغاړی ونومول شو.

د ویلو ده چې رحمن الله ګربز په ۱۷۳، ابراهیم ځدرانِ په ۱۴۲ او لیتن داس کمار په ۹۲ منډو مخکښ توپوهونکي، همدا شان فضل الحق فاروقي په ۸، مجیب الرحمن په ۵ او شریف الاسلام په ۴ ویکټو د یادې لوبړې غوره توپ اچوونکي وو.



د افغانستان او پاکستان ترمنځ

د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبډلې ترسره شوه

د افغانستان کرکټ بورډ په تېره مارچ میاشت کې د شل اوریزو سیالیو له لوبډلې وروسته د روان کال په اګست میاشت کې یو ځل بیا د پاکستان کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ. دا ځل د دواړو لوبډلو ترمنځ درې نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ ترسره شوې چې د اګست میاشتې په ۲۲مه نېټه پیل او د همدې میاشتې تر ۲۶مې نېټې پورې یې د سریلانکا پر دوه ښارونو، همبنټوټا او پلازمېنه کولمبو کې دوام و موند.

افغان لوبډلې که څه هم په دغه لوبډلې کې درې واړه لوبې سیالې لوبډلې ته وبایللې خو بیا هم دغه لوبډلې د افغانستان کرکټ بورډ لپاره له مالي او تخنیکي اړخه ډېره ګټوره ثابته شوه. د افغانستان کرکټ بورډ په خورا ښه توګه د دغې لوبډلې کوبه توب وکړ چې هم یې له تخنیکي او هم له مالي اړخه د افغانستان کرکټ بورډ ته ډېره ګټه وکړه.



د افغانستان کرکټ بورډ د پاکستان پر وړاندې د درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لپاره د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لپاره له ببلابېلو مالي ملاتړ کوونکو کمپنیو سره ټرونونه لاسلیک کړل.

د افغانستان کرکټ بورډ سوپرکولا شرکت ته د یادو سیالیو د عمومي مالي ملاتړ حقوق ورکړل چې د دواړو ادارو ترمنځ د ټرون له مخې د یاد شرکت نښان د افغان لوبډلې د لباس په مخه، له سینې لاندې د لباس په مرکزي برخه ولګېد. دغه راز د یاد شرکت نښان د افغانستان او پاکستان ترمنځ د لوبډلې په عمومي لوګو (نښان) کې هم ځای پرځای شو. د دې ترڅنګ دغې لوبډلې ته هم د (سوپرکولا جام) نوم ورکړل شوی و.

د مرحبا موټرو نندارتون بل هغه بهرنی شرکت و چې د دغې لوبډلې د مرستیال (پاورډ بای) مالي ملاتړي حقوق یې خپل کړي ول، چې د ټرون له مخې د یاد شرکت نښان د ملي لوبډلې د لباس د شا په پورتنۍ برخه، د لوبغاړي له نوم پورته،

د لوبډلې لباس
او مالي ملاتړي

وکارول شو. باید وویل شي چې د دغې لوبډلې د مخکښ مالي ملاتړ د حقوقو د پېرلو لپاره ګڼ شمېر بهرنیو شرکتونو خپله لېوالتیا څرګنده کړې وه او په لوړ قېمت د دغو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیکونه د افغانستان کرکټ بورډ ته لېږلي وو خو د افغانستان کرکټ بورډ دغه حقوق له افغاني ملي شرکت سره د ګډې همکارۍ او د ملي لوبډلې په لباس د ملي نښان درلودلو لپاره د سوپرکولا ملي شرکت سره ټرون وکړ، ترڅو د ملي لوبډلې په لباس ملي نښان شتون ولري او د خپل افغاني ملي شرکت په پرمختګ کې ونډه واخلي.

سربېره پر دې د افغانستان کرکټ بورډ او هندۍ کمپنۍ (رېریو - Rario) ترمنځ د اوږدمهالي ټرون له مخې یاد شرکت ته د لستوني د ملاتړ حقوق ورکړل شوي ول. د دې ټرون له مخې د یاد شرکت نښان د لباس په لیډینګ ارم (د توپوهونکي هغه مټ چې د توپوهنې پرمهال کامرې ته مخامخ وي) کارول شوی و، په داسې حال کې چې د ټایکا شرکت نښان، چې د افغان لوبډلې د لباس د برخې همکار دی، د لباس په دویم لستوني چاپ شو.

په دې سره افغانستان کرکټ بورډ د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو د لوبډلې لپاره په ټوله کې ۴ مالي ملاتړي او همکاران درلودل چې په دې سیالیو کې یې د افغانستان کرکټ بورډ سره ګډ کار وکړ.

پروډکشن

د پاکستان پر وړاندې د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لوبډې د افغانستان په کورېه توب ترسره شوه، د ډېرو نورو عملیاتي، لوجستیکي، تخنیکي او مالي چارو ترڅنګ د یوې غوره او مشهورې نړیوالې پروډکشن کمپنۍ ګمارل هم د افغانستان کرکټ بورډ پر غاړه ول چې باید د سیالیو د نشراتي تولید لپاره تړې کار واخلي. په همدې موخه د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې د ځانګړې او هر اړخیزې همغږۍ له مخې له ګڼ شمېر پروډکشن کمپنیو سره اوږدې خبرې اترې وشوې چې په پایله کې یې له هندۍ سمسکارا (Samskaara Entertainment) کمپنۍ سره، چې د ډېرو نورو برخو ترڅنګ د سیالیو په رسنیز-نشراتي تولید کې پراخه مخینه لري، تړون وکړ چې له مخې یې دغه سیالۍ په ۲۷ سترو کامرو په خورا لوړ کیفیت سره تولید کړي.

د دغه تړون له مخې د افغانستان کرکټ بورډ د سمسکارا کمپنۍ په ګډې همکارۍ د پاکستان پر وړاندې د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لوبډې ته په نړیواله کچه غوره نشراتي خدمات وړاندې کړل چې پر مټ یې د افغانستان او د یادو سیالیو خورا غوره انځور نړیوالو ته ورسېد.



د سیالیو رسمي خپروونکي چینلونه

د افغانستان کرکټ بورډ او فایربرډ ورزشي مدیریتي شرکت ترمنځ د تړون له مخې دغه شرکت د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو نشراتي حقوق په ټوله نړۍ کې په بېلابېلو چینلونو وپلورل. په افغانستان کې د دغو سیالیو د خپراوي حقوق د افغانستان ملي راډیو تلویزیون ته ورکړل شوي ول چې له مخې یې ملي سپورت چینل دغه سیالۍ په ژوندۍ بڼه نشر کړي. د دې ترڅنګ دغه سیالۍ په پاکستان کې پي ټي وي سپورټس(PTV Sports) ، تپمډ (Tapmad) او اې سپورټس (A Sports) نشر کړي. په هند، سریلانکا، مالدیف، نیپال او بنګله دېش کې یوروسپورټس (Eurosport)، په کاناډا او د امریکا په متحده ایالاتو کې ویلو سپورټس (Willow Sports) او په استرالیا کې فاکس سپورټس (Fox Sports) ته د دغو سیالیو د خپراوي حقوق ورکړل شول چې له مخې یې دغه سیالۍ په یادو هېوادونو کې په ژوندۍ بڼه نشر شوې.

Global Broadcasters

AFGHANISTAN	مرزا SPORT
PAKISTAN	PTV sports, tapmad, A SPORTS HD
INDIA	EUROSPORT
SRI LANKA	EUROSPORT
MALDIVES	EUROSPORT
NEPAL	EUROSPORT
AUSTRALIA	FOX SPORTS
UNITED STATES, CANADA	WILLOW

Super Cola Title Sponsor | BULLETO Presented by | Marhaba Auctions Powered by | FIREBIRD Official Partner | RARIO Sleeve Sponsor | bj sports, Bank Alfalah, PRINCE, TRANS GROUP, Kingdom Valley Associate Sponsors | TYKA Clothing Partner

د ټولنیزو رسنیو
پراخ پوښښ

د پراخ تلویزیوني پوښښ ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ په خپلو ټولنیزو رسنیو د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو لوبډې ته خورا غوره رسنیز پوښښ ورکړ چې د سیالیو له پیله وړاندې د لوبډلې د چمتووالي او تمریناتو انځورونه او ویډیوګانې، د لوبغاړو، روزونکو او اړوند تخنیکي کسانو مرکې او نور موارد په منظم ډول نشر او یادو سیالیو ته په خورا ښه توګه کمپاین وشو. د سیالیو په لړ کې د لوبو تازه حال په انځوریز او ویډیویي بڼه په خورا ښه ډول وړاندې شو. له پروډکشن کمپنۍ سره د ټرون له مخې د یادو سیالیو تازه کلیپونه چې پکې هره ویکټ، شپږیزه، غوره لحظې او وروستۍ شېبې شاملې وې، په منظمه او هم مهالي توګه د افغانستان کرکټ بورډ له رسمي فېسبوک، ټویټر او انسټاګرام پاڼو او د یوټیوب د لنډو کلیپونو په جلا برخه کې نشر شول چې د لیدونکو له پراخ هرکلي سره مخ شول. دغه راز د سیالیو د غوره او لنډې شېبې (هایلایټس) د افغانستان کرکټ بورډ په یوټیوب چاینل هم نشر شول چې هره ویډیو سلګونه زره لیدونکو نندارە کړه.

دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې استازو د یادو سیالیو له پیله وړاندې د هېواد بېلابېلو ښکلو او تاریخي سیمو لکه نورستان، بامیان، هرات، بلخ، سمنګان، هلمند او د پلازمېنې کابل په ګډون یو شمېر نورو ولایتونو ته سفرونه وکړل ترڅو هر اړخیز ښکلي ویډیویي کلیپونه ترتیب کړي او بیا یې د یادو سیالیو په لړ کې په نړیوال فیډ کې مکرراً نشر کړي. په دې سره نړیوالو د افغانستان د ښکلو سیمو زړه راښکونکي ویډیویي کلیپونه بیا بیا وکتل چې ورسره د لوبو په لړ کې د افغانستان تاریخي ارزښتونه او طبیعي ښکلاوې په نړیواله کچه خپرې شوي.

د دې ترڅنګ له افغانستان، پاکستان، سریلانکا، هند او نورو هېوادونو د تلویزیوني، راډیویي، ویبپاڼو او نورو انځوریزو، غږیزو، چاپي او ټولنیزو رسنیو استازي د یادو سیالیو د پوښښ لپاره



سریلانکا ته تللي وو چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو ته رسنیز پوښښ ورکړي. باید وویل شي چې د یادو رسنیو د استازو مدیریت او د خبري کنفرانسونو برابرول هم د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او مطبوعاتو څانګې مسولیت و، چې په خورا ښه توګه یې ترسره کړ.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو د لوبډلې په دومره ډېرو هېوادونو کې نشرېدل او د ټولنیزو رسنیو له لارې پراخ رسنیز پوښښ د افغانستان د کرکټ د غوره انځور د وړاندې کولو او په راتلونکي کې د بازارموندنې اړوند چارو کې د ډېر احتمالي پرمختګ لپاره خورا ښه زېری ګڼل کېږي.



د سیالیو عمومي جام

د افغانستان کرکټ بورډ په یوه بېساري نوښت د پاکستان پر وړاندې د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو جام له دري ډوله توکو جوړ شوی و. د دغه جام تنه د هلمند ولایت له قیمتي روخام ډبرې، د جام له پاسه د کرکټ توپ له افغاني لاجوردو او ښخ یا اساس یې د کونړ ولایت له مشهور لرګي جوړ شوی و. د روخام ډبره، افغاني لاجورد او د کونړ ولایت لرګی په سیمه کې له خورا ستر نوم او ارزښته برخمن دي او له همدې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو جام له دې توکو جوړ شو ترڅو په نړیواله کچه د افغانانو د هنر غوره بېلګه وړاندې شي او هم د افغان ملت د بډایه کلتور او دودونو استازیتوب وکړي.

د غوره لوبغاړو جایزې او نغدي انعامات

د افغانستان او پاکستان ترمنځ دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو د غوره لوبغاړو جایزې له افغاني لاجوردو جوړې شوې وې. لاجورد هغه قیمتي ډبره ده چې د زرګونو کلونو لپاره د افغانستان په غرونو کې پاتې شوې ده او د ځواک، مبارزې او ځیرکتیا بېلګه ګڼل کېږي. دغه بې ساري جایزې د افغانستان د بډایه کلتوري میراث او د لوبغاړو د وړتیا او ژمنتیا د بېلګې په توګه په یادو سترو او تاریخي سیالیو کې غوره لوبغاړو ته ورکړل شوې چې په نړیواله کچه د ډېرو کرکټ مینه والو، مبصرینو او لیدونکو د خوښې وړ وګرځېدې. د غوره لوبغاړو د جایزو ترڅنګ لوبغاړو ته نغدي انعامات هم په افغانیو ورکړل شول چې دا هم د افغانستان د هویت د غوره استازولې لپاره غوره او مؤثر ګام و.



د سیالیو غوره مدیریت

د پاکستان پر وړاندې د دري نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کوربه توب او مدیریت د افغانستان کرکټ بورډ په غاړه و. د افغانستان کرکټ بورډ د یادو سیالیو له پیله تقریباً یوه میاشت وړاندې خپل چمتووالی پیل کړی و چې د مېلمه پاکستانی لوبډلې ترڅنګ د افغان لوبډلې د کوربه توب او غوره مېلمه پالنې لپاره له هره اړخه چمتو واوسي. د افغانستان کرکټ بورډ د یادو سیالیو د غوره تنظیم لپاره یوه پنځه کسیزه کمېټه ګمارلې وه چې له لوجستیکي، عملیاتي، تخنیکي، بازارموندنې، رسنیز او مالي اړخه بشپړ چمتووالی ولري. افغانستان کرکټ بورډ شپه او ورځ کار وکړ، د سختو هلو ځلو پر مټ یې یادې سیالۍ په خورا منظمه توګه تنظیم کړې او د سیالیو خورا ښه کوربه توب وشو.

د پاکستانی لوبډلې ډېره ښه مېلمه پالنه وشوه، افغان لوبډلمشر پاکستاني لوبغاړو ته د نورو ډالیو په توګه ورکړې چې د هغوی د خوښې او ډېرې پاملرنې وړ وګرځېدې او ټولو لوبغاړو له افغانستان کرکټ بورډ او له افغان لوبغاړو خورا ښې تجربې او یادونه له ځان سره یوړل.

د پاکستان پر وړاندې د سیالیو غوره مدیریت دا په ډاګه کړه چې د افغانستان کرکټ بورډ د بشپړو لوبلړیو لپاره د سترو لوبډلو د کوربه توب او مدیریت ظرفیت لري او کولی شي چې د لا ډېرو سیالیو او اوږدو لوبلړیو لپاره د نورو سترو لوبډلو کوربه توب هم وکړي. په ټوله کې د پاکستان پر وړاندې د سیالیو کوربه توب په خورا ښه ډول ترسره شو او د افغانستان کرکټ بورډ لپاره عالي تجربه وه چې کولی شي په راتلونکي کې ترې د نورو لوبډلو په کوربه توب کې کار واخلي.



۱۰ افغانستان نړیوالې یو ورځنۍ لوبې بشپړې کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې په نړیوال کرکټ کې د خپل لوبیز بهیر په ترڅ کې ۱۵۰ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ بشپړې کړې. افغان لوبډلې په ۲۰۰۹م کال کې د یو ورځنیو سیالیو د نړیوال دریځ له ترلاسه کولو وروسته خپله لومړنۍ نړیواله یو ورځنۍ لوبه هم د همدې کال د اپریل میاشتې په ۱۹مه نېټه د سکاټلېنډ پر وړاندې ترسره کړه او دا دی له هغې وروسته ۱۴ کاله وروسته یې د ۲۰۲۳م کال د اګست میاشتې ۲۶مه نېټه د افغانستان په کوربه توب د پاکستان پر وړاندې د درې نړیوالو یو ورځنیو سیالیو د لوبلړۍ په دریمه لوبه کې ۱۵۰مه نړیواله یو ورځنۍ لوبه هم بشپړه کړه.

افغان لوبډلې په دغه موده کې ۳۰ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ د ایرلېنډ، ۲۸ سیالۍ د زمبابوې، ۱۴ سیالۍ د بنګله دېش، ۱۳ سیالۍ د سکاټلېنډ، ۱۰ سیالۍ د سریلانکا، ۹-۹ سیالۍ د ویسټ انډیز او نیدرلینډ، ۷ سیالۍ د پاکستان، ۶-۶ سیالۍ د کینیا او متحده عربي اماراتو، ۵ د کانادا، ۳-۳ سیالۍ د هند او استرالیا، ۲-۲ سیالۍ د انګستان، نیوزیلېنډ او هانګ کانګ او یوه نړیواله یو ورځنۍ سیالي د سویلي افریقا پر وړاندې ترسره کړې چې ټولې ۱۵۰ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ کېږي.

د دغو ۱۵۰ نړیوالو یو ورځنیو سیالیو له منځه افغان لوبډلې ۷۳ بریاوې خپلې کړې دي چې پکې ۱۸ بریاوې د زمبابوې، ۱۶ د ایرلېنډ، ۸ د سکاټلېنډ، ۷ د نیدرلېنډ، ۶ د بنګله دېش، ۴-۴ د کانادا او کینیا، ۳-۳ د ویسټ انډیز، سریلانکا او متحده عربي اماراتو او یوه بریا یې د هانګ کانګ ملي لوبډلې پر وړاندې خپله کړې ده. په پاتې ۷۷ سیالیو کې افغان لوبډله په ۷۱ سیالیو کې له ماتې سره مخ شوې، ۴ سیالۍ یې بې پایلې پای ته رسېدلې او یوه سیالي یې له هندۍ لوبډلې سره مساوي پای ته رسولې ده.



د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو ګډون کوونکې لوبډلې، مهالویش، افغان لوبډله او د افغانستان سیالۍ

د روان ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالی د اکټوبر میاشتې په پنځمه نېټه د هندوستان په کوربه توب پیلیږي. په دغو سیالیو کې ۱۰ لوبډلې ګډون لري چې د کوربه هندی لوبډلې ترڅنګ ۷ نورو لوبډلو، افغانستان، انګلستان، استرالیا، پاکستان، نیوزیلنډ، بنګله دېش او سویلي افریقا د کرکټ نړیوالې شورا د نړیوال جام د سوپر لیګ سیالیو له لارې دغو سترو سیالیو ته لاره ومونده.



HASHMATULLAH
SHAHIDI (C)

ICC MEN'S CRICKET WORLD CUP

AFGHANISTAN SQUAD



I ZADRAN



R GURBAZ (WK)



R SHAH



R HASSAN



N ZADRAN



M NABI



I ALIKHIL



A OMARZAI



R KHAN



A RAHMAN



N AHMAD



M UR RAHMAN



FAROOQI



NAVEEN

RESERVE PLAYERS

1) GULBADIN NAIB *2) SHARAFUDIN ASHRAF*
3) FARID AHMAD MALIK

د کرکټ نړیوالې شورا د نړیوال جام سوپر لیګ سیالی د ۱۳ لوبډلو ترمنځ د درې کلونو په موده کې ترسره شوې چې له مخې به یې هرې لوبډلې د نورو ۱۲ لوبډلو له منځه د ۸ لوبډلو پر وړاندې د ۳ سیالیو لوبلړی، چې ټولې ۲۴ یو ورځنۍ نړیوالې سیالۍ کېږي، ترسره کولې. د دغو سیالیو د ترسره کولو موخه د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو ته د غوره ۸ لوبډلو په ډاګه کول و، چې په پایله کې یې پورته ذکر شوې ۸ لوبډلې په ډېرو بریاو او نمرو سره د مخکښو لوبډلو په توګه نېغ په نېغه نړیوال جام ته لاره ومونده.

د پاتې دوو لوبډلو د معلومولو لپاره د کرکټ نړیوالې شورا د روان کال په جون-جولای میاشتو کې د زمبابوې په کوربه توب د نړیوال جام لپاره د غوراوي پړاو سیالۍ ترسره کړي. په دغو سیالیو کې ۱۰ لوبډلو ګډون درلود، په دې کې ۵ لوبډلې، سریلانکا، ویسټ انډیز، نیدرلنډ، ایرلنډ او زمبابوې، چې د نړیوال جام د سوپر لیګ سیالیو د ۱۳ لوبډلو ترمنځ هغه وروستۍ ۵ لوبډلې وې چې نړیوال جام ته یې لاره نه وه موندلې، او پاتې ۵ نورې لوبډلې، متحده عربي امارات، امریکا متحده ایالات، نیپال، عمان او سکاټلنډ نورې هغه لوبډلې وې چې له دویمه درجه نړیوالو سوپر لیګ سیالیو یې نړیوال جام د غوراوي پړاو سیالیو ته لاره موندلې وه، برخه درلوده. د یادو ۱۰ لوبډلو ترمنځ د ۲۱ ورځو په موده کې ټولې ۳۴ یو ورځنۍ نړیوالې سیالۍ ترسره شوې چې په پایله کې یې سریلانکا او نیدرلنډ لوبډلې له یو لړ جالبو لوبو وروسته د خپلو سیالانو په ماتولو سره د روان کال نړیوال جام سیالیو ته لاره ومونده، چې ورسره د ۲۰۲۳م کال کرکټ نړیوال جام سیالیو ټولې ګډون کوونکې ۱۰ لوبډلې په ډاګه شوې.

یادې ۱۰ لوبډلې، افغانستان، هند، استرالیا، انګلستان، نیوزیلنډ، پاکستان، سویلي افریقا، سریلانکا، بنګله دېش او نیدرلنډ لوبډلې به د نړیوال جام په سترو سیالیو کې برخه واخلي. د یادو سیالیو په لومړي پړاو کې به هره لوبډله په راونډ-روبین بڼه د ټولو سیالو ګډون کوونکو لوبډلو پر وړاندې یو ځل د سیالۍ ډګر ته ښکته شي. هره لوبډله به په لومړي پړاو کې ۹ سیالۍ ترسره کړي چې له منځه به یې د یادو سیالیو ۴ مخکښې لوبډلې د نیمه پایلوبو پړاو ته لاره ومومي چې په نیمه پایلوبو کې د بریا په خپلولو سره به دوه لوبډلې وروستۍ پایلوبې ته ووځي چې د نومبر میاشتې په ۱۹مه نېټه به د نړۍ په ترټولو ستر نریندرا مودي نړیوال کرکټ لوبغالي کې د سیالۍ ډګر ته ښکته شي.

په یادو سیالیو کې به افغان لوبډله خپله لومړۍ سیالي د اکټوبر میاشتې په اوومه نېټه د بنګله دېش پر وړاندې په درمساله کرکټ لوبغالي کې ترسره کړي. دغه راز به افغان اتلان په خپله دویمه لوبه کې د اکټوبر میاشتې په ۱۱مه نېټه د کوربه هند او د همدې میاشتې په ۱۵مه نېټه د انګلستان پر وړاندې په دهلي، په ۱۸مه نېټه د نیوزیلنډ او ۲۳مه نېټه د پاکستان پر وړاندې په چینای، د همدې میاشتې په ۳۰مه نېټه د سریلانکا پر وړاندې په پونې، د نومبر میاشتې په دریمه نېټه د نیدرلنډ پر وړاندې په لکهنو، د همدې میاشتې په اوومه نېټه د استرالیا پر وړاندې په ممبۍ او د نومبر میاشتې په ۱۰مه نېټه به د لومړي پړاو په وروستۍ لوبه کې د سویلي افریقا پر وړاندې د احمدابادد په نریندرا مودي نړیوال کرکټ لوبغالي کې د سیالۍ ډګر ته ښکته شي.
دغه راز به افغان لوبډله د یادو سیالیو له پیله وړاندې دوه رسمي تمریناتي سیالۍ هم ترسره کړي چې د سپټمبر میاشتې په ۲۹مه نېټه د سویلي افریقا پر وړاندې د



تیروونتاپورم په ګرینفیلډ نړیوال کرکټ لوبغالي او د اکټوبر میاشتې په دریمه نېټه به د سریلانکا پر وړاندې د ګواهاتي په برسپارا کرکټ لوبغالي کې د سیالۍ ډګر ته ښکته شي. د کرکټ نړیواله شورا د نړیوال جام سیالیو له پیله وړاندې ټولو ګډون کوونکو لوبډلو ته د هغوی د توازن د لا زیات برابرولو په موخه دوه-دوه تمریناتي سیالۍ برابروي ترڅو د نړیوال جام سترو سیالیو ته په بشپړه توګه چمتو شي.

د افغانستان کرکټ بورډ د لوبغاړو د غوراوي کمېټې د نړیوال جام سیالیو لپاره د افغان لوبډلې ۱۵ کسیز نوملړ اعلان کړی چې پکې درې احتیاطي لوبغاړي هم شامل دي. په افغان لوبډله کې حشمت الله شهیدي لوبډلمشر، رحمن الله ګربز او اکرام علیخیل ویکټ ساتونکي، ابراهیم ځدران، ریاض حسن، رحمت شاه، نجیب الله ځدران، محمد نبي، راشد خان، عظمت الله عمرزی، عبدالرحمن رحماني، مجیب الرحمن، نور احمد، نوین الحق او فضل الحق فاروقي شامل دي. دغه راز ګلبدین نایب، شرف الدین اشرف او فرید احمد ملک د احتیاطي لوبغاړو په توګه له لوبډلې سره مل دي.

د یادونې وړ ده چې افغان لوبډلې د سپټمبر میاشتې په ۱۵مه نېټه په یوه تمریناتي کمپ کې د ګډون په موخه متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ ترڅو د نړیوال جام لپاره هر اړخیز چمتووالی ونیسي. افغان لوبډلې په متحده عربي اماراتو کې له ۱۰ ورځني تمریناتي کمپ وروسته د سپټمبر میاشتې په ۲۵مه نېټه هندوستان ته سفر وکړ ترڅو په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې ګډون وکړي.



افغان اتلانو د نړیوال جام په موخه تمریناتي کمپ ترسره کړ

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د کرکټ نړیوال جام سیالیو ته د ښه تیاري او چمتووالي په موخه تمریناتي کمپ ترسره کړ.
یاد تمریناتي کمپ چې د متحده عربي اماراتو په دوبی کې ترسره شو، د نړیوال جام ګډون کوونکو لوبغاړو د کورنیو او بهرنیو روزونکو تر څارنې لاندې پکې ګډون درلود. له یاد کمپ وروسته افغان اتلان په نړیوال جام کې د ګډون په موخه د سمپټمبر میاشتې پر ۲۵مه نېټه د هندوستان په لوري روان شول.
د نړیوال جام سیالیو لپاره د تیاري په موخه افغان اتلانو د سپټمبر میاشې پر ۱۵مه له کابل څخه د متحده عربي اماراتو دوبی ته سفر وکړ. د دې سفر په ترڅ کې لومړی په اسیا جام او د پاکستان سره لوبو کې د زخمي شویو لوبغاړو د رغوني او ښه کېدو په موخه د ډاکټرانو له لوري منظم تمرینات ترسره شول.
د یاد تمریناتي کمپ په دویم پړاو کې د ملي لوبډلې د کورنیو او بهرنیو رزونکو له لوري د لوبغاړو د فزیکي تکړښت، ظرفیت لوړونې او ذهني پیاوړتیا په برخه کې په دوامداره توګه تمرینات ترسره شول. یاد تمرینات د سپټمبر پر ۱۶مه نېټه پیل چې د همدې میاشتې تر ۲۴مې نېټې پورې یې دوام وموند.
د نړیوال جام ستړې سیالی چې د اکټوبر میاشتې پر ۵مه د هندوستان په کوربتوب پیلیږي، افغان اتلانو ورته له وړاندې د ښه چمتووالي په موخه لومړی له بنګله دېش سره د دریو یو ورځنیو سیالیو لوبلړی ترسره کړه، چې ۱-۲ افغان ملي لوبډلې وګټله. همدا راز یې د سریلانکا، پاکستان سره د یو ورځنیو لوبو دوه اړخیزه لوبلړی ترسره او په اسیا جام کې ګډون وکړ.
د یادونې وړ ده چې افغان ملي لوبډله د دریم ځل لپاره په نړیوال جام سیالیو کې د لوبډو ویاړ لري. افغان اتلانو په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۹م نړیوالو جامونو کې ګډون کړی چې په خپل لومړي وار ګډون کولو سره یې د سکاټلېنډ لوبډلې ته ماتې ورکړې ده.
افغان اتلان به نړیوال جام کې خپله لومړی لوبه د اکټوبر میاشتې پر ۷مه د بنګله دېش پر وړاندې د هند په درمسالا کې ترسره کړي.

افغان
Afghan Telecom
يوازينى بشپړ ملي مخابراتي شركت

سلام
Salaam



خدمات انترنت افغان تیلی کام

- انترنت فایبر نوری
- انترنت وایمکس
- انترنت نقطه به نقطه (P2P)
- انترنت سیمدار (DSL)
- انترنت شبکه سلام (3G)

افغان
Afghan Telecom
يوازينى بشپړ ملي مخابراتي شركت

info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af
+93745 111 333
333
020 3330333

ستـــار روغتون
STAR Medical Complex
SMC Star Medical Complex
ستار میډیکل کمپلکس
Save Health Save Life



Star Medical Complex
ستار میډیکل کمپلکس

+93 (0) 767 27 28 29
+93 (0) 728 27 28 29
info@smc.net.af
starmedicalcomplex1@gmail.com

www.smc.net.af
Between Baraki Square & Parwan -e- du, Kabul- Afg
بین چـــهارراهی بـــرکی و پـــروان دو، کـــابل – افغانستان
Star Medical Complex





محمد نبي

په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۵۰ وېکټې پوره کړې



د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې نوموتي لوبغاړي محمد نبي عیسی خېل په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۱۵۰ وېکټې بشپړې کړې. نوموړي په خپله ۱۳۶مه پاڼې کې د توپ اچونې له غوره ۳۲.۱۸ اوسط او په هر اور کې د ۴.۳۰ منډو (ایکانومي ریټ) سره ۱۵۰ ویکټې پوره کړې او له راشد خان وروسته یوازې دویم افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي.
محمد نبي په توپ اچونه کې د بهترین ریکارډ ترڅنګ په توپوهنه کې هم خورا ښه ځلېدلی او د توپوهنې په ۱۲۸ پاڼیو کې یې د ۲۷.۲۷ منډو په اوسط سره د یوې سلیزې او ۱۵ نیمه سلیزو پرمټ ۳۰۸۲ منډې جوړې کړې دي. نوموړی په توپوهنه کې هم د افغان لوبغاړو ترمنځ دویم مقام لري او له رحمت شاه زرمتي وروسته دویم مخکښ افغان توپوهونکی دی.
د افغانستان د کرکټ دغه نایابه ستوری بیا یوازښنی افغان لوبغاړی دی چې په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې له ۳۰۰۰ ډېرې منډې او له ۱۵۰ ډېرې وېکټې په خپل نوم لري.



حضرت الله ځاځي

په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې پوره کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه پیلیز توپوهونکي حضرت الله ځاځي په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې ۱۰۰۰ منډې بشپړې کړې. نوموړي د شل اوریزو نړیوالو سیالیو په ۳۷ پاڼیو کې د ۳۰.۱۵ منډو په اوسط سره د یوې سلیزې او درې نیمه سلیزو پر مټ ۱۰۰۰ منډې پوره کړې او اووم افغان لوبغاړی شو چې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي.



نجیب الله ځدران

په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې پوره کړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه توپوهونکي نجیب الله ځدران په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې ۲۰۰۰ منډې بشپړې کړې. نوموړي په خپله ۸۷مه پاڼې کې د یوې سلیزې او ۱۵ نیمه سلیزو پرمټ د ۳۰.۷۸ منډو په اوسط سره دغه منډې پوره کړې او له رحمت شاه زرمتي، محمد نبي، محمد شهزاد او اصغر افغان وروسته پنځم افغان توپوهونکی شو چې په نړیوالو یو ورځنیو سیالیو کې دغه کارنامه په خپل نوم ثبتوي.



افغان لوبډلې په ۲۰۲۳م

کال اسیا جام سیالیو

کې ګډون وکړ

په اسیا جام کې د سریلانکا پر وړاندې د افغانستان په لوبه کې څه پېښ شول؟



د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د ۲۰۲۳م کال پیل په متحده عربي اماراتو کې د شل اوریزو سیالیو په لوبلړۍ وکړه، خو له هغه وروسته یې په کور دننه د زرغون افغانستان جام سیالیو په شمول د بنګله دېش، سریلانکا او پاکستان پر وړاندې د نړیوالو یو ورځنیو سیالیو پرله پسې لوبلړۍ ترسره کړې.

له یادو سیالیو وروسته افغان لوبډلې د همدې کال د اګست میاشتې په وروستیو کې پاکستان ته سفر وکړ، ترڅو د ۲۰۲۳م کال په اسیا جام سیالیو کې ګډون وکړي. افغان لوبډله د یادو سیالیو په دویم ګروپ کې له سریلانکا او بنګله دېش لوبډلو سره یو ځای وه، په داسې حال کې چې په لومړي ګروپ کې هند، پاکستان او نیپال لوبډلو ځای درلود.

د یادو سیالیو لپاره نجیب الله ځدرانۍ او عظمت الله عمرزی چې له دې وړاندې د پاکستان پر وړاندې لوبلړۍ کې د ټپونو له امله له افغان لوبډلې سره مل نه وو، هم لوبډلې ته راګرځېدلي وو.

د یادو سیالیو لپاره د افغان لوبډلې په بشپړ نوملړ کې حشمت الله شهیدي لوبډلمشر، رحمت شاه زرمتی مرستیال لوبډلمشر، رحمن الله ګربز، ابراهیم ځدران، ریاض حسن، نجیب الله ځدران، محمد نبي، عظمت الله عمرزی، اکرام علی خېل، ګلبدین نایب، کریم جنت، راشد خان، مجیب الرحمن، نور احمد، فضل الحق فاروقي، محمد سلیم ساپی او عبدالرحمن رحماني شامل وو.

د یادو سیالیو د مهالوېش له مخې به هرې لوبډلې په خپل ګروپي پړاو کې دوه سیالۍ کولې چې له هر ګروپ به دوه مخکښې لوبډلې د ځلورو غوره لوبډلو پړاو ته لاره موندله. د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې دواړه سیالۍ د پاکستان په لاهور ښار کې پلان شوې وې، افغان اتلان په خپله لومړنۍ لوبه کې د سپټمبر میاشتې په دریمه نېټه له بنګله دېش سره د سیالۍ ډګر ته ښکته شول. دا په یادو سیالیو کې د بنګله دېش دویمه لوبه وه، دغې لوبډلې له دې وړاندې خپله لومړنۍ لوبه سریلانکا ته بایللې وه او باید دویم پړاو ته د لارموندنې په موخه یې د افغان لوبډلې پر وړاندې ستره بریا خپله کړې وی.

پر وړاندې د افغانستان په لوبه کې څه پېښ شول؟

بنګله دېش د افغان لوبډلې پر وړاندې لومړی توپوهنه وکړه او د مهدي حسن میراز او نجم الحسین شانتو د سلیزو پرمټ یې افغان لوبډلې ته د ۳۳۵ منډو ستر هدف کېښود. د افغان لوبډلې په ګټه په توپوهنه کې ابراهیم ځدران او لوبډلمشر حشمت الله شهیدي نیمه سلیزې جوړې کړې، خو بیا یې هم هدف پوره نه کړ او د ټولو لوبغاړو په زیان یې ۲۴۵ منډې جوړې کړې چې له املې یې د ۸۹ منډو په ستر توپیر ماتې ومنله.

سیالۍ بنګالي لوبډلې د افغان اتلانو پر وړاندې په دې ستړې بریا سره د اسیا جام سیالیو دویم پړاو ته لاره وموندله. سریلانکا که څه هم یوه لوبه ګټلې وه، خو بیا هم افغان لوبډلې د دې چانس درلود چې د سریلانکا پر وړاندې د نسبتاً ستړې بریا په خپلولو سره دویم پړاو ته لاره وموميِ. افغان لوبډلې د سریلانکا پر وړاندې هم د لوبې پېچه وبایلله او د یادې لوبډلې د پرېکړې سره سم یې باید لومړی توپ اچونه کړې وی. سریلانکا لوبډلې د افغان توپ اچوونکو پر وړاندې ښه پیل واخیست او ډېرې منډې یې جوړې کړې، افغان لوبغاړو د سیالۍ لوبډلې د منځ لوبغاړې بیا ژر له ډګره بهر کړل خو وروستیو لوبغاړو یې یو ځل بیا ښه ملګرتیا وکړه او افغان لوبډلې ته یې د سیالۍ د ګټلو په موخه د ۲۹۲ منډو هدف وټاکه.

افغان لوبډلې نه یوازې دا چې د لوبې د ګټلو په موخه یاد هدف پوره کړی وی، بلکې باید د ۵۰ اورونو پرځای په ۳۷.۱ اورونو کې یې بشپړ کړی وی، ترڅو یې نیټ رنریټ له سریلانکا ښه شي او د اسیا جام دویم پړاو ته لاره وموميِ. افغان توپوهونکو د یاد هدف په ځواب کې ښه پیل وانخیست، رحمن الله ګربز او ابراهیم ځدران ډېر وختي خپلې ویکټې له لاسه ورکړې، خو رحمت شاه زرمتي او ګلبدین نایب ښه ملګرتیا وکړه، له دې وروسته لوبډلمشر حشمت الله شهیدي او محمد نبي هم بهترینه توپوهنه وکړه او افغان لوبډله یې بریا ته نږدې کړه. محمد نبي په ۳۲ توپونو د ۵ شپږیزو او ۶ ځلوریزو پرمټ ۶۵ چټکې منډې جوړې کړې، خو له دې وړاندې چې افغان لوبډله بریا ته ورسوي، خپله ویکټ یې له لاسه ورکړه.



کریم جنت او نجیب الله ځدرانۍ هم شپه توپوهنه وکړه خو هر یوه یې د چټکو منډو جوړولو په هڅه کې خپلې وېکټې له لاسه ورکړې. یو وخت داسې راغی چې افغان لوبډلې ته په ۷ توپونو ۱۵ منډې پکار وې ترڅو د اسیا جام سیالیو دویم پړاو ته لاره وموميي، راشد خان په یوه اور کې درې څلوریزې ووهلې او په ٦ توپونو یې ۱۲ منډې جوړې کړې، افغان لوبډلې ته په یوه توپ ۳ منډې پکار وې او باید مجیب الرحمن یې مخه کړې وی، خو نوموړی د څلوریزې په هڅه کې د بونډرۍ په سر کېچ شو او په دې بریالی نشو ترڅو افغان لوبډله په ټاکلي وخت کې بریا ته ورسوي. د ۳۷.۱ اورونو په بشپړېدو سره افغان لوبډلې ۲۸۹ منډې درلودې، په لوبغالي کې ولاړ افغان لوبغاړي راشد خان او فضل الحق فاروقي ډېر مایوسه شول او فکر یې وکړ چې بل پړاو ته یې د لارموندنې چانس له لاسه ورکړ، خو له بده مرغه نه افغان لوبغاړي، نه روزونکي او نه هم مدیره هیئت په دې خبر وو چې افغان لوبډله لا هم چانس لري ترڅو د همدې اور په دویم توپ ۲۹۳، په دریم توپ ۲۹۴، او تر دې چې د ۳۸.۱ اور پورې ۲۹۷ منډې جوړې کړي، بیا هم بل پړاو ته لاره موندلی شي. په خواشینونکې توګه دغه معلومات افغان لوبډلې او اړوند مسوولینو ته په ټاکلي وخت نه و ورکړل شوي او له دې خبرې د لوبې له پای ته رسېدو وروسته خبر شول، چې له امله یې په لوبغالي کې ټول لوبغاړي، روزونکي او مدیره هیئت هک پک پاتې شول.

افغان لوبډلې نه یوازې دا چې د اسیا جام سیالیو دویم پړاو ته له مخکې تګ بې برخې شوه، بلکې له مجیب الرحمن وروسته فضل الحق فاروقي هم خپله ویکټ له لاسه ورکړه او په دې سره یې لوبه هم سیالي سریلانکا لوبډلې ته وبایلله، چې د افغان لوبډلې، لوبغاړو، اړوند مسولینو او د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې مینه والو خواشیني یې یو په دوه کړه. د دغې خواشینوونکې ماتې وروسته د افغانستان کرکټ بورډ د نړیوالو لوبو اړوند څانګې مسوولینو د یو رسمي برېښنالیک له لارې د کرکټ اسیایي شورا مسوولینو سره خپل شکایت ثبت کړ او په اړه یې د سپیناوي او غفلت کوونکو مسوولینو ته د سزا ورکولو غوښتنه وکړه. دغه راز د افغانستان کرکټ بورډ هم یوه کمېټه وټاکله ترڅو یاده موضوع د لوبډلې اړوند مسولینو ترمنځ وڅېړي، چې که د افغان لوبډلې د مسوولینو ترمنځ ناغېړي شوې وي، هغوی ته هم سزا ورکړي.

په دې توګه افغان لوبډلې په ۲۰۲۳م کال په اسیا جام کې خپل سفر د سریلانکا پر وړاندې له یوې خورا زړورې او عالي هڅې خو له یوې زړه ماتونکې ماتې وروسته په خورا خواشینونکې توګه پای ته ورساوه. د یادونې وړ ده چې له ۲۰۱۸م کال وروسته دا لومړی ځل و چې افغان لوبډلې د اسیا جام سیالیو دویم پړاو ته په لارموندنه کې پاتې راغله او د یادو سیالیو د څلورو غوره لوبډلو په پړاو کې له لوبډو بې برخې شوه.

میوند اتلانو

د احمدشاه ابدالي

فرسټ کلاس سیالیو

اتلولي وګټله





د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو شپږم پړاو لوبې د میوند اتلانو لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې. یادې لوبې چې د اګسټ میاشتې په ۱۰مه د ننګرهار، خوست او کندهار په لوبغالو کې پیل شوې وې، پایلوبې ته یې هندوکش سټرایکرز او میوند اتلان لوبډلو لاره موندلې وه. هندوکش لوبډلې د لوبې په دریمه ورځ یوازې د ۵۶ منډو هدف د میوند اتلانو ته وټاکه او د ۷ ویکټو په توپیر یې ماتې ومنله.

په احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو کې سرکال هندوکش سټرایکرز، پامیر لیجنډز، میوند اتلان او ماهیپر ستوري لوبډلو برخه اخیستې وه چې هندوکش د ۹۴ او میوند اتلانو د ۷۳ زیاتو امتیازونو په خپلولو سره د یادو سیالیو پایلوبې ته لاره وکړه. دغه پایلوبه چې د سپتمبر میاشتې پر ۱۸مه نېټه د دوشنبې پر ورځ د ننګرهار په غازي امان الله خان لوبغالي کې پیل شوه. میوند اتلانو د لوبې پچه وګټله او لومړی یې هندوکش سټرایکرز ته د توپوهنې بلنه ورکړه.

د هندوکش لوبډلې په خپلې لومړۍ پاڼۍ کې د افتاب عالم ۸۳ ناسوځېدلو، دروېش رسولي ۸۰ او شبیر نوري ۶۵ منډو پر مټ ۳۳۴ منډې ترلاسه کړې. بلخوا د میوند په توپ اچونه کې مجیب ځدرانۍ ۳، ابراهیم عبدالرحیمزي او اعجاز احمدزي هر یوه ۲ ویکټې په خپل نوم کړې.

د هندوکش د ۳۳۴ منډو ځواب کې د میوند اتلانو ۳۶۶ منډې جوړې کړې او د ۳۲ منډو مخکښوالی یې ترلاسه کړ. د یادې لوبډلې په ګټه عمران میر ۱۱۲، اعجاز احمدزي ۷۰ او ناصر جمال ۶۷ منډې وکړې. باید وویل شي چې د هندوکش لوبډلې په توپ اچونه کې افتاب عالم او کامل کاکړ ۳-۳ او نوید ځدرانۍ ۲ لوبغاړي د لوبې له ډګر بهر کړل.
د لوبې په دریمه ورځ هندوکش سټرایکرز لوبډلې د میوند اتلانو د ۳۲ منډو پور په ځواب کې ۲۵ منډې جوړې کړې او ۲ لوبغاړي یې له لاسه ورکړه، خو د لوبې په دریمه ورځ یادې لوبډلې یوازې ۸۷ منډو کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکړه او د ۵۶ منډو هدف یې وټاکه. د دوی لپاره دروېش رسولي زیاتې ۲۶ منډې جوړې کړې. د میوند لپاره نسیم منګل ۵، ابراهیم عبدالرحیمزي او عرب ګل مومند ۲-۲ ویکټې په خپل نوم کړې.
میوند لوبډلې د هندوکش لوبډلې د ۵۶ منډو هدف د ۳ ویکټو په تاوان سره ترلاسه کړ او د شپږم پړاو فرسټ کلاس لوبو اتلولي یې خپله کړه. د دوی په توپوهونکو کې عبدالهادي ۳۵ او اصف موسی زي ۱۴ ناسوځېدلې منډې وکړې. د هندوکش له لوري افتاب عالم ۲ او نوید ځدرانۍ ۱ لوبغاړی د لوبې له میدانه رخصت کړل.

د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس شپږم پړاو د غوره لوبغاړو د جایزو په ترڅ کې د میوند اتلانو چټک توپ اچوونکی نسیم منګل د ۶ ویکټو په ترلاسه کولو د لوبې غوره لوبغاړی. د ماهیپر ستورو پیلیز توپوهونکی عبدالمالک د ۶۲۱ منډو په جوړولو د لوبو غوره توپوهونکی، د هندوکش چټک توپ اچوونکی نوید ځدرانۍ په ۳۳ ویکټو د سیالیو غوره توپ اچوونکی، د هندوکش لوبغاړی افتاب عالم په ۱۸۷ منډو او ۲۶ ویکټو په ترلاسه کولو د لوبو غوره الراونډر او د میوند اتلانو لیګ بریکر عرب ګل مومند د ۲۴ ویکټو په اخیستلو د لوبو ځوان یا ایمرجینګ لوبغاړی ونومول شول.

د یادونې وړ ده چې د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو په ۲۰۱۷م کال کې د کرکټ نړیوالې شورا له لوري د فرسټ کلاس (څلور ورځنی) سیالیو دریځ خپل کړ. د یادو سیالیو د لومړي او دویم پړاونو اتلولي په ۲۰۱۷م او ۲۰۱۸م کلونو کې بند امیر زون، د دریم پړاو په ۲۰۱۹م کال کې سپین غر زون، د څلورم پړاو اتلولي د دریم ځل لپاره په ۲۰۲۱م کال کې بندامیر زون، د پنځم پړاو په ۲۰۲۲م کال کې امو زون او د شپږم پړاو اتلولي په ۲۰۲۳م کال کې د میوند اتلان لوبډلې خپله کړه.





سپین غر زون

معلولینو لوبډلې له خپلې اتلولۍ دفاع وکړه

د نجیب الله تره کي د زونونو په کچه د معلولینو سیالیو نهم پړاو سر کال په کندز ولایت کې ترسره شوې. یادې سیالۍ چې یوه اونۍ پې دوام وکړ، اتلولي یې د سپین غر زون په پرله پسې دویم ځل لپاره ترلاسه کړه. دغه لوبې چې په شل اوریزه بڼه ترسره شوې، په پایلوبه کې یې سپین غر زون د ۴ ویکټو په توپیر سره مس عینک زون ته ماتې ورکړه.

د نجیب الله تره کي د زونونو په کچه د معلولینو شل اوریزه سیالیو کې سر کال د هېواد د پنځو زونونو څخه مس عینک، بست، امو، بند امیر او سپین غر زونونو ګډون کړی وو.

د معلولینو یاد شل اوریز جام چې هر کال د کورنۍ کرکټ تر چتر لاندې ترسره کېږي، پنځه واړو لوبډلو یې لومړی له یو بل سره لوبې ترسره کړې. په دغه لوبو کې سپین غر لوبډلې په دریو بریاو سره ۶ امتیازونه خپل کړل او پایلوبې ته یې لاره ومونده. همدا راز مس عینک لوبډله په دوو بریاو، خو غوره نیټ رن رېټ سره د یادو لوبو پایلوبې ته ورسېده.

په دغه پایلوبه کې مس عینک زون د لوبې پچه وګټله او لومړی یې خپله د توپوهنې پربکړه وکړه. یادې لوبډلې د ذکیم خان ۳۵ او عبدالله عصمتي ۳۱ منډو پر مټ په ټاکل شویو ۲۰ اورونو کې د ۱۶۱ منډو هدف وټاکه. د سپین غر په توپ اچونه کې زاهدالله مموزي ۴ او محمداشرف ۲ ویکټې په خپل نوم کړې.

د مس عینک له لوري ټاکل شوی هدف سپین غر د سمیع الله حبیبزي د ۴۶، سریر خان او طایب ساپي هر یوه ۲۳ منډو پر مټ د لوبې په ۱۸م اور کې ترلاسه شو. د مس عینک توپ اچوونکو له منځه زکیم خان د سیال لوري دوه لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړل.

د لوبې د پای په مراسمو کې د مس عینک لوبډلمشر زبیر ځدران په ۱۶۶ منډو غوره توپوهونکی، د سپین غر توپ اچونکی اختر نبي په ۹ ویکټو غوره توپ اچونکی، د بست لوبډلې لوبغاړی سین الله په ۸۵ منډو او ۸ ویکټو د سیالیو غوره لوبغاړی او زاهدالله په ۴ ویکټو د پایلوبې غوره لوبغاړی ونومول شول.

د نجیب الله تره کي د معلولینو شل اوریزه سیالۍ چې هر کال د معلولینو کرکټ لوبغاړو د پیاوړو لوبغاړو د موندنې او د هغوی د پیاوړتیا په موخه ترسره کېږي، په ۲۰۱۴م کال کې د لومړي ځل لپاره پیل شوې او تر دې مهاله یې نهه پړاونه ترسره شوي دي.

د یادو لوبو د لومړي پړاو اتلولي په ۲۰۱۴م کال کې سپین غر زون، د دویم پړاو په ۲۰۱۵م کال کې بند امیر زون، د دریم پړاو په ۲۰۱۶م کال کې مس عینک زون، د څلورم پړاو په ۲۰۱۷م کال کې امو زون، د پنځم پړاو په ۲۰۱۸م کال کې بست زون، د شپږم پړاو په ۲۰۲۰م کال کې سپین غر زون، د اووم پړاو په ۲۰۲۱م کال کې امو زون او اتم او نهم پړاونو اتلولي په ۲۰۲۲م او ۲۰۲۳م کلونو کې سپین غر زون خپله کړې ده.

د کرکټ نړۍ ۸ ستر ریکارډونه یا کارنامې

د کرکټ له پیله تر اوسه د ریکارډونو جوړولو لړۍ روانه ده. ځینې ریکارډونه ژر مات شوي، خو ښایي چې ځینې ریکارډونه ډېر وروسته مات شي. افغانستان په ۲۰۱۹ز کال کې د ایرلېنډ پر وړاندې په شل اوریزه نړیواله لوبه کې ۲۷۸ منډې وکړې، چې هغه وخت کې تر ټولو ډېرې وې او د نړیوال ریکارډ په توګه یادېده، خو دغه ریکارډ د روان کال د سپټمبر میاشتې په ۲۷مه نېټه د اسیایي سیالیو په لړ کې نیپال لوبډلې مات کړ، دغې لوبډلې د منګولیا پر وړاندې په شل اوریزه نړیواله لوبه کې ۳۱۴ منډې جوړې کړې. همداسې په لسګونه ریکارډونه دي، چې ځینې مات شوي، ځینې لا هم پاتې دي او کېدای شي چې ځینې ریکارډونه مات نه شي.

سچن ټنډولکر - ۳۴،۳۵۷ منډې

د هندوستان افسانوي لوبغاړي سچن ټنډولکر ګڼ شمېر ریکارډونه جوړ کړي او کېدای شي د نوموړي ځینې ریکارډونه یا کارنامې ماتې نه‌شي. نوموړي په خپل ۲۴ کلن لوبیز ژوند کې ځینې داسې ریکارډونه جوړ کړل، چې ماتول یې کېدای شي ډېر وخت واخلي او یا هم کېدای شي هېڅ مات نه‌شي. نوموړي په خپل ۲۴ کلن نړیوال لوبیز ژوند کې ٦٦٤ نړیوالې سیالۍ وکړې چې پکې یې د ۱۰۰ سلیزو او ١٦٤ نیمه سلیزو پرمټ ۳۴،۳۵۷ منډې جوړې کړې، د نوموړي سل سلیزې او هومره ډېرې منډې جوړول هغه ریکارډونه دي چې ماتول یې ښایي اسانه نه وي او ډېر وخت واخلي. د سریلانکا لوبډلې لوبغاړي کمار سنګاکارا د خپل لوبیز ژوند تر پایه ۲۸،۰١٦ منډې جوړې کړې؛ خو د سچن ټنډولکر ریکارډ ته ونه رسېد. په نورو لوبغاړو کې د سچن خپل هېوادوال وېرات کوهلي، چې لا هم لوبې کوي، تر اوسه نړدې ٢٦ زره منډې او ۷۷ سلیزې جوړې کړې دي، خو لا هم د ټنډولکر د ډېرو سلیزو ریکارډ د ماتولو لپاره ۲۴ نورو سلیزو او د ډېرو منډو ریکارډ ماتولو لپاره له ۸ زرو ډېرو منډو جوړولو ته اړتیا لري، چې ښایي ډېر وخت ونیسي.



جېک کالیس - ۲۵،۰۳۴ منډې او ۵۷۷ ویکټې



جېک کالیس د سوېلي افریقا مشهور الروندېر لوبغاړی و چې د ۱۹۹۵ او ۲۰۱۴ کلونو ترمنځ د خپل هېواد لپاره په نړیوال کرکټ ولوبېد. نوموړي په ښي لاس توپوهنه او په همدې لاس چټکه توپ اچونه کوله. نوموړي په خپل ۱۹ کلن نړیوال لوبیز ژوند کې داسې لوبې وکړې چې ښایي کوم بل الروندېر لوبغاړی ورته ونه رسېږي، له همدې املې نوموړی د کرکټ تر ټولو غوره الروندېر په توګه یادېږي. کالېس د ۵۱۹ نړیوالو سیالیو په ٦١٧ پاڼیو کې د ٦٢ سلیزو او ۱۴۹ نیمه سلیزو پرمټ د ۴۹.۱۰ منډو په اوسط سره ۲۵،۵۳۴ منډې جوړې کړې دي، چې د ډېرو منډو له حسابه په نړیوال کرکټ کې شپږم مقام له ځان سره لري. نوموړي دغه راز په ۵۷۴ پاڼیو کې ۵۷۷ ویکټې هم اخیستې دي. له ۲۵ زرو ډېرې منډې او ۵۷۷ ویکټې اخیستل په یوازې ځان د یوه لوبغاړي لپاره د ریکارډ په توګه یادېږي. له نوموړي مخکې، د نوموړي د لوبیز ژوند پرمهال له ده سر یوځای او له ده وروسته ګڼ شمېر الروندېر لوبغاړي تېر شوي وي او لا هم ځینې خورا تکړه الروندېران اوس هم په نړیوال کرکټ کې لوبېږي خو لا هم د جېک کالېس د ډېرو منډو او ویکټو ریکارډ ته ندي رسېدلي. مشهور سریلانکایي لوبغاړی سنات جایاسوریا د خپل لوبیز ژوند تر پایه ۲۱۰۳۲ منډې او ۴۴۰ ویکټې واخیستې خو لا یې هم د کالېس له ریکارډه ډېر واټن درلوډ. جېک کالېس د کرکټ د ډګر خورا مشهور نوم دی او ریکارډونه یې ښایي تر ډېره وخته مات نشي.

براین لارا - د ټیسټ لوبو په یوه پاڼه کې ۴۰۰ ناسوځېدلې منډې



براین چارلېس لارا د ویسټ انډیز کرکټ لوبډلې پیاوړی توپوهونکی تېر شوی. نوموړي به ۱۹۹۰ تر ۲۰۰۷م کال پورې د خپلې لوبډلې په ګټه نړیوال کرکټ کړی. لارا په ۲۰۰۴ز کال کې د انګلستان پر وړاندې د ټیسټ سیالیو د لوبلړۍ د ځلورمې ټیسټ لوبې په لومړۍ پاڼې کې ۴۰۰ ناسوځېدلې منډې وکړې. د ټیسټ لوبو په یوه پاڼې کې ۴۰۰ منډې تر اوسه بل لوبغاړي ندي جوړې کړې او لا هم د ستر نړیوال ریکارډ په توګه یادېږي. له نوموړي وړاندې د استرالیا مشهور پیلیز توپوهونکي متیو هایډن په یوه پاڼې کې ۳۸۰ منډې کړې وې. دغه راز له لارا وروسته د سریلانکا پیاوړي توپوهونکي مهېلا جایاوردنې په ۲۰۰٦ز کال کې د سوېلي افریقا پر وړاندې یوه پاڼې کې ۳۷۴ منډې جوړې کړې خو د لارا د ریکارډ له ماتولو وړاندې یې خپله ویکټ له لاسه ورکړه. دا چې نړیوال کرکټ ډېر بدل شوی، که له یوې خوا توپوهونکي له نوي ذهنیت سره خورا ښه توپوهونه کوي، خو له بلې خوا توپ اچوونکي هم ډېر پیاوړي دي او توپوهونکو ته ډېر وخت نه ورکوي ترڅو په ډګر کې پاتې شي او ډېرې منډې جوړې کړي، نو ښایي د براین لاره ریکارډ هم تر ډېره پورې ژوندی پاتې شي. براین لارا د ویسټ انډیز په ګټه په ۴۳۰ نړیوالو سیالیو کې ولوبېد چې د ۵۳ سلیزو او ۱۱۱ نیمه سلیزو پرمټ یې ۲۲،۳۵۸ منډې جوړې کړې.

اې بي ډيويليرز - په ۳۱ توپونو تر ټولو چټکه سليزه



اې بي ډيويليرز د سوېلي افريقا پخوانی لوبډلمشر او مشهور لوبغاړی و. نوموړی د کرکټ په نړۍ کې د خپلو جالبو او عالي شاټونو له امله خورا شهرت درلود. ای بي ډيويليرز د ۲۰۱۵ز د جنورۍ میاشتې په ۱۸مه نېټه د ويسټ انډيز او سوېلي افريقا ترمنځ په دويمه نړيواله يو ورځنی لوبه کې په ۳۱ توپونو سليزه ووهله، چې د کرکټ په نړۍ کې د نوي ريکارډ په توګه ثبت شو. نوموړي په دغه لوبه کې په ۴۴ توپونو د ۱۶ شپږيزو او ۹ څلوريزو پرمټ ۱۴۹ منډې جوړې کړې. د اې بي ډيويليرز د چټکې سليزې د نوي ريکارډ وړاندې شاهد افريدي د سريلانکا پر وړاندې په ۱۹۹۶ز کال کې په ۳۷ توپونو سليزه جوړه کړې وه چې نړدې ۱۸ کاله د ريکارډ په توګه پاتې وه، چې بيا د ۲۰۱۴ز کال د جنورۍ میاشتې په لومړۍ نېټه د نيوزيلنډ لوبډلې لوبغاړي کوري انډرسن د ويسټ انډيز پر وړاندې په ۳۶ توپونو سليزه ووهله، چې د نوي ريکارډ په توګه ثبت شو، خو دغه ريکارډ يوازې يو کال پاتې شو چې وروسته د اې بي ډيويليرز له لوري مات شو او تر اوسه د ريکارډ په توګه پاتې دی.

لاسيت ملينګا - دوه ځلې پرله‌پسې څلور ويکټې



لاسيت ملينګا د سرېلانکا لوبډلې پياوړي توپ اچوونکی و چې د خپلې ښکلې توپ اچونې پرمټ يې ګڼې لوبډلې له ستونزو سره مخ کولې. ملينګا په خپل ۱۶ کلن لوبيز ژوند کې تل د لوبډلې په ګټه ښه توپ اچونه کوله او ډېرو کمو توپوهونکو به په ښه توګه لوبولی شو. نوموړي د خپل لوبيز ژوند تر پايه ۵۴۶ نړيوالې ويکټې واخيستې. نوموړي په خپل لوبيز ژوند کې ګڼ ريکارډونه جوړ کړي، خو دوه ځلې يې د سوېلي افريقا پر وړاندې په ۲۰۰۷ او په ۲۰۱۹م کال کې د نيوزيلنډ پر وړاندې پر وړاندې په څلورو توپونو څلور پرله پسې ويکټې واخيستې. په نورو لوبغاړو کې د افغان لوبډلې پياوړي لوبغاړي راشد خان، د ايرلنډ کرټس کېمفر او د ويسټ انډيز جېسن هولډر هر يوه، يو ځلې په څلورو توپونو څلور پرلپسې وېکټې اخيستې خو لا يوه يې هم دغه کارنامه دوه ځلې نده ثبت کړې. ښايي په نړدې راتلونکې کې هم کوم توپ اچوونکی په دې بريالی نشي چې په څلورو توپونو څلور لوبغاړي د لوبې له ډګره بهر کړي.

فيل سېمنز - په لسو اورونو کې

د ۳ منډو په بدل کې ۴ ويکټې اخيستل



د ويسټ انډيز الروند لوبغاړي فيل سېمنز په ۱۹۹۲ز کال کې د پاکستان پر وړاندې داسې توپ اچونه وکړه، چې تر اوسه کوم بل لوبغاړي داسې کارنامه نه ده کړې. سيمونز په خپل لس اورونو کې يوازې د ۳ منډو په مقابل کې ۴ ويکټې واخيستې، ۸ اورونه يې مېډن کړل (هېڅ منډه يې پکې ورنکړه) او د ۰.۳۰ منډو په ايکانومي ريټ سره يې خپل لس اورونه بشپړ کړل. د ايکانومي ريټ له اړخه که څه د استرالیا شان ايټ په لومړي مقام کې دی، خو هغه يوازې ۵ اورونه ترسره کړي و چې د ۲ منډو په بدل کې يې ۲ وېکټې ترلاسه کړې وې. په بشپړو لسو اورونو کې د کمو منډو ورکولو ريکارډ اوس هم له فيل سيمنز سره دی او داسې ريکارډ دی چې ماتول يې ښايي ډېر وخت واخلي.

چمېندا واس - د ۱۹ منډو په بدل کې

۸ ويکټې؛ په يو ورځنيو نړيوالو سيالیو

کې تر ټولو غوره توپ اچونه



چمېندا واس د سرېلانکا لوبډلې چپ لاسي چټک توپ اچوونکی و چې د ۲۰۰۹-۱۹۹۴ کلونو ترمنځ يې د خپل هېواد لپاره نړيوال کرکټ وکړ، چې په خپل ۱۵ کلن لوبيز ژوند کې ۷۶۱ نړيوالې ويکټې واخيستې. نوموړي په ۲۰۰۱ز کال کې د زمبابوې پر وړاندې په يو ورځنی لوبه کې د ۱۹ منډو په بدل کې ۸ ويکټې واخيستې چې په يو ورځنيو نړيوالو سيالیو کې تر ټولو غوره توپ اچونه شمېرل کېږي. له ده وروسته افغان راشد خان په ګډون د نړۍ ۱۲ نورو توپ اچوونکو په يوه لوبه کې ۷ ويکټې واخيستې، خو د واس ريکارډ ته ونه رسېدل. د افغان لوبډلې ورو توپ اچوونکي راشد خان هم په ۲۰۱۷ز کال کې د ويسټ انډيز پر وړاندې لوبه کې د ۱۸ منډو په بدل کې ۷ ويکټې واخيستې، د دغه ريکارډ په جدول کې يې څلورم مقام خپل کړ خو د چمېندا واس ريکارډ ته ونه رسېد.

شعيب اختر - ۱۶۱.۳ کيلو متره په ساعت

کې سرعت سره توپ اچونه کول



د پاکستان لوبډلې چټک توپ اچوونکی شعيب اختر په خپل وخت کې د نړۍ د چټکو توپ اچوونکو ترمنځ ترټولو مخکې و. نوموړي په ۲۰۰۳ز د نړيوال جام سيالیو پر مهال د انګلستان لوبډلې پر وړاندې ۱۶۱.۳ کيلو متره په ساعت سرعت سره نېک نايټ ته توپ اچونه وکړه. له نوموړي وروسته د استرالیا توپ اچوونکو برېټ لي په ۲۰۰۵ز او شان ټايټ په ۲۰۱۰ز کال کې د ۱۶۱.۱ کيلو متره په ساعت کې توپ اچونه وکړه خو د شعيب اختر د چټک توپ ريکارډ ته ونرسېدل. د شلو کلونو په تېرېدو او اوسمهال په نړۍ کې د ګڼو چټک توپ اچوونکو په شتون کې تر اوسه کوم توپ اچوونکی ونه توانېد چې په دومره سرعت سره توپ اچونه وکړي او ښايي تر ډېره وخته همداسې پاتې شي.

ستورټ براډ

له نړیوال کرکټ سره مخه ښه وکړه

د انګلستان ملي لوبډلې پیاوړي توپ اچوونکي ستورټ کرسټوفر جوهن براډ د روان ۲۰۲۳ کال د جولایي میاشت په ۲۳مه نېټه له نړیوال کرکټ سره مخه ښه وکړه او د کرکټ په نړۍ کې یې خپل شاندارہ ۱۷ کلن سفر ته د پای ټکی کېښود.

۳۷ کلن براډ د نړیوال کرکټ سفر په ۲۰۰۶ کال کې د اګست میاشتې په ۲۸مه نېټه د پاکستان پر وړاندې یوې شل اوریزې لوبې څخه پیل او په ۲۰۲۳ کال کې د ایشیز (د انګلستان- استرالیا ترمنځ ځانګړې لوبلړۍ) په وروستۍ ټسټ لوبه چې د جولای میاشتې د (۳۱-۲۷) نیټې ترسره شوه، پای ته ورساوه.

ستورټ براډ ۵۶ شل اوریزې نړیوالې لوبې ترسره کړې او پکې یې ۶۵ وېکټې ترلاسه کړې دي، دغه راز په ۱۲۱ یو ورځنیو نړیوالو لوبو کې یې ۱۷۸ وېکټې او په ۱۶۷ ټېسټ لوبو کې ۶۰۴ وېکټې ترلاسه کړې دي. براډ توانېدلی چې په ټولو بڼو کې یوویشت ځلې د ۵ وېکټو ویاړ په خپل نوم ثبت کړي.

په شل اوریزو لوبو کې د نوموړي د توپ اچونې غوره ریکارډ د ۲۴ منډو ورکولو سره د ۴ لوبغاړو سوځول دي. چې یاد ویاړ یې د نیوزیلینډ پر وړاندې ترلاسه کړی او په دې بڼه کې یې د وېکټو اخیستلو تر ټولو لوړ ریکارډ همدا دی.

په یو ورځنیو لوبو کې د نوموړي د توپ اچونې غوره ریکارډ یا کارنامه د ۲۳ منډو ورکولو سره د ۵ لوبغاړو له ډګره اېستل دي چې یاد ویاړ یې د سویلي افریقا پر وړاندې لوبه کې ترلاسه کړی دی او په دې بڼه لوبو کې د ۵ وېکټو یوازې یو ریکارډ لري.

په ټېسټ لوبو کې د نوموړي د توپ اچونې غوره ریکارډ او کارنامه د ۱۵ منډو ورکولو سره د ۸ لوبغاړو له ډګره اېستل دي چې یاد ویاړ یې د استرالیا پر وړاندې په ایشیز لوبلړۍ کې ترلاسه کړی دی.

باید وویل شي چې ستورټ براډ په یوورځنیو او شل اوریزه نړیوالو لوبو کې د انګلستان ملي لوبډلې لوبډلمشري هم کړې ده او

همدارنګه د هغې لوبډلې غړی و کومې چې د ۲۰۱۰ کال شل اوریز نړیوال جام د انګلستان لپاره ګټلی وو.

که څه هم د یو بڼې لاسي چټک توپ اچوونکي په توګه د ستورټ براډ ډېرې کارنامې په توپ اچونه کې دي ولې د یو الراوندړ په توګه نوموړي په کینې لاس هم توپوهنه هم کوله او په ټېست لوبو کې یې ځینې لاس ته راوړنې د پام وړ دي.

نوموړي په شل اوریزه لوبو کې ۱۱۸چې لوړې منډې یې ۱۸ دي، په یو ورځنیو لوبو کې ۵۲۹ چې لوړې منډې ۴۵ دي او په ټېسټ لوبو کې د۱۳ نیمه سلیزو او ۱ سلیزې پر مټ ۳۶۶۲ منډې لري چې لوړې منډې یې ۱۶۹ دي.

په توپ اچونه کې براډ دوه ناخوښه تاریخي کارنامې هم په خپل نوم ثبت کړې چې یو یې په ټېسټ لوبه کې د هندوستان ۹مه شمېره توپ وهونکي بومرا ته ۲۸ منډې ورکول دي او بل په شل اوریز فارمټ کې د هند پخواني پیاوړي توپوهونکي یوراج سېنګ ته په ۶ توپونو ۶ شپږیزې ورکول دي.

په ټوله کې براډ د ټېسټ کرکټ په تاریخ کې پنځم توپ اچوونکی دی چې تر نورو ډېرې وېکټې یې اخیستي او همدارنګه د جیمز اینډرسن ترڅنګ دویم چټک توپ اچوونکی دی چې انګلستان لپاره یې ۶۰۰ وېکټې ترلاسه کړې دي.

لاندې مهالوېش کې په نړیوال کرکټ کې د نوموړي د درې واړو بڼو پیل او پای په ډاګه شوی دی چې په لنډ ډول ورته اشاره کوو:

نړیوال شل اوریز کرکټ

پیل	اګست ۲۸مه نېټه، ۲۰۰۶ کال د پاکستان پر وړاندې
پای	مارچ ۳۱مه نېټه، ۲۰۱۴ کال د نیدرلینډ پر وړاندې

نړیوال یو ورځنی کرکټ

پیل	ګست ۳۰مه نېټه، ۲۰۰۶ کال د پاکستان پر وړاندې
پای	فبروري ۱۴مه نېټه، ۲۰۱۶ کال د جنوبي افریقا پر وړاندې

نړیوال ټسټ کرکټ

پیل	ډسمبر (۱۳-۹) نېټه، ۲۰۰۷ کال د سریلانکا پر وړاندې
پای	جولای (۳۱-۲۷) نېټه، ۲۰۲۳ کال د استرالیا پر وړاندې

هالنډ او سریلانکا

د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو ته لاره ومونده



د پنځوس اوریز نړیوال جام سیالی د روان کال په اکتوبر میاشت کې په هند کې پیلیږي، د یادو سیالیو لپاره د غوراوي سیالی له دې وړاندې د زمبابوې په کوربه توب ترسره شوې چې په پایله کې یې سریلانکا او نیدرلینډ وکولی شول څو نړیوال جام سیالیو ته لاره وکړي. د ویلو ده چې افغان اتلانو له دې وړاندې په سوپرلیګ سیالیو کې د زیاتو لوبو په ګټلو او د دې لوبو جدول کې د اووم مقام په خپلولو سره وکولی شو چې په مستقیم ډول نړیوال جام ته لاره وموميِ.

په پنځوس اوریز نړیوال جام کې ټولې لس لوبډلې ګډون کوي چې اتو لوبډلو د سوپر لیګ سیالیو له لارې او دوه نورو سریلانکا او نیدرلینډ د غوراوي پړاو له لارې یادو یاد سترو سیالیو ته لاره پیدا کړه. د غوراوي ټپړاو سیالی چې لسو لوبډلو پکې برخه درلوده؛ لومړی په ګروپي پړاو کې هرې لوبډلې څلور لوبې وکړې چې له مخې یې د ګروپ درې مخکښې لوبډلې د شپږ غوره پړاو ته ورسېدې.

په ګروپي پړاو کې له الف ګروپ څخه زمبابوې، نیدرلینډ او ویسټ انډیز او له ب ګروپ څخه سریلانکا، سکاټلینډ او عمان لوبډلو د شپږ غوره لوبډلو پړاو ته لاره وموندهِ. په شپږ غوره پړاو کې هر لوبډله د یو بل پر وړاندې د لوبې ډګر ته ښکته شوه چې له مخې یې سریلانکا د خپلو پنځو واړو او نیدرلینډ د دریو سیالیو په ګټلو او ٦ امتیازونو په ترلاسه کولو سره د غوره نېټ رنږېټ له مخې وکولی شول چې د روان کال پنځوس اوریز نړیوال جام ته لاره وکړي.

د کرکټ نړیوالې شورا پنځوس اوریز نړیوال جام چې هر څلور کاله وروسته ترسره کیږي، دا لومړی ځل دی چې د یاد جام د لومړي او دویم پړاو اتله ویسټ انډیزی لوبډله پکې له ګډونه محرومه شوه. ویسټ انډیز که څه هم د شپږ غوره پړاو ته ځان ورساوه، خو د دریو لوبو په بایللو او یوازې دوه سیالیو په ګټلو وتوانېده چې له املې یې نړیوال جام ته له تګ پاتې شي.

د غوراوي پړاو سیالیو کې سریلانکا، نیدرلینډ، ویسټ انډیز، زمبابوې، عمان، سکاټلینډ، ایرلینډ، امریکا، نیپال او متحده عرب اماراتو برخه اخیستې وه. د ویلو ده چې دا له ۲۰۱۱م کال راوروسته لومړی ځل دی چې د نیدرلینډ کرکټ ملي لوبډله په پنځوس اوریز نړیوال جام کې د لوبډو وياړ خپلوي.

د کرکټ نړیوالې شورا پنځوس اوریز نړیوال جام چې د روان کال اکتوبر میاشتې پر ۵مه نېټه پیلیږي، لومړی سیالی به پکې د انګلستان او نیوزیلینډ لوبډلو ترمنځ د هندوستان په احمد اباد لوبغالي کې ترسره شي. همدا راز د افغانستان کرکټ ملي لوبډله به په یاد جام کې خپله لومړی لوبه د بنګله دېش پر وړاندې د اکتوبر په ۷مه نېټه د هند په دارمسالا لوبغالي کې ترسره کړي.







د سوپر کولا شرکت او افغانستان کرکټ بورډ ترمنځ

د افغان لوبډلې عمومي مالي

ملاتړ وغځول شو

د سوپر کولا شرکت او افغانستان کرکټ بورډ د مسوولینو له لوري د افغانستان کورنیو او نړیوالو سیالیو د عمومي مالي ملاتړ د لاسلیک شوې تړون پر غځولو هوکړه وشوه. د یادو تړون له مخې به سوپر کولا شرکت د روان کال تر پایه د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې او کورنیو سیالیو مالي ملاتړ ته دوام ورکوي.

یاد هوکړه لیک نن د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي مشر ښاغلي نصیب خان او د سوپرکولا شرکت د اجراییوي مشر شهاب قناویزیان ترمنځ لاسلیک شو. د یادې ناستې په ترڅ کې دواړو خواو د لاسلیک شوي تړون له املې مننه وکړه او ټینګار یې وکړ چې دغه ملګرتیا به دوامداره او اوږدمهاله کړي.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رییس د یاد تړون له لاسلیک کولو وروسته وویل: ((دا د خوښۍ ځای دی چې په خپل هېواد کې له خپل ملي شرکت سوپر کولا سره د عمومي مالي ملاتړ لاسلیک شوی تړون غځوو او دې ملګرتیا ته دوام ورکوو. زه د سوپر کولا شرکت له مسؤلینو ځانګړې مننه کوم چې د خپلو ملي اتلانو مالي ملاتړ ته دوام ورکوي.))

نومورې همدا راز وویل له سوپر کولا شرکت سره د غوره همغږۍ په پایله کې مو د نومورې شرکت رضایت ترلاسه کړی چې له املې یې د افغانستان کرکټ بورډ سره د عمومي مالي ملاتړ لاسلیک شوی تړون غځول کېږي.

ورپسې د سوپر کولا شرکت اجراییوي مشر ښاغلي قناویزیان له افغانستان کرکټ بورډ سره د یاد تړون پر غځولو خوښي وښوده.

نومورې وویل: ((مورږ خوشاله یو چې د افغانستان کرکټ بورډ سره یادې ملګرتیا ته دوام ورکوو. دا د سوپر کولا کمپنۍ لپاره د ویاړ ځای دی چې په نړیوالو ډګرونو کې د خپلو ملي اتلانو مالي ملاتړ په غاړه لري. مورږ ژمن یو چې دا ویاړ تر ډېره له ځان سره ولرو او د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې دوامداره عمومي مالي ملاتړې واوسو.))

ښاغلي قناویزیان همدارنګه زیاته کړه، افغان اتلان د دې هېواد اصلي او ویاړلي اتلان دي چې په خپلو وروستیو بریاو یې د نړۍ پام ځان ته را اړولی دی او کرکټ په ډګر کې یې هغو سترو لوبډلو ته ماتې ورکړې دي چې کلونه کلونه یې یاده سیالۍ ترسره کړې ده.

یاده ناسته چې د افغانستان کرکټ بورډ په انګړ کې ترسره شوه، د دواړو لوریو د بازارموندنې ځانګو مسؤلینو هم ګډون درلود. د غونډې په وروستیو کې د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رئیس ښاغلي نصیب خان له لوري د سوپر کولا کمپني اجراییوي مشر ښاغلي قناویزیان ته دملي لوبډلې د لوبغاړو لاسلیک شوی لباس هم د ډالۍ په توګه ورکړ.

د یادونې وړ ده چې د یاد هوکړه لیک له مخې سوپر کولا شرکت د کورنۍ کرکټ شپږیزه او لیسټ اې او همدا راز د پاکستان پر وړاندې د تېرې لوبلړۍ او اسیا جام سیالیو عمومي مالي ملاتړ په غاړه درلود.



AFGHANISTAN CRICKET BOARD
ACB

Afghanistan Cricket Board
Kabul International Cricket Stadium
Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul, Afghanistan